# زېری

پښتو ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي


دژبې خورا پخه او اساسي مطالعه دلومړي ځل له پاره دلرغوني افغانستان (آریانا) په شرقي سیمه کې د هغه دوخت دیوه ډېر ستر ګرامر لیکونکي له خوا شروع شوې ده. دا ستر ګرامر لیکونکی پاڼیني دی، چې یې د ۴۰۰ق. م په شاوخوا کې د اټک د سیند پر غاړه ژوند کاوه او د سنسکریت ژبې ګرامر یې په ډېر استادانه ډول ولیکه.

ګرامر د بشرپوهنې له تاریخي یادګارونو څخه یو ډېر ستر یادګار دی او د نوموړي کتاب تر وخته پورې، هېڅ یوه ژبه هم په دې مهارت نه وه تشریح شوې.

"نوې ژبپوهنه او ژبني مسایل اثر"


چهارشنبه ▣ ۱ – ۴ مه ګڼه ▣ دریيمه دوره ▣ پرله پسې ۲۲۵ - ۲۲۸ مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴ لمریز کال د ثور (غویي) ۳۰ مه ▣ ۱۴۳۶ هـ ق کال د شعبان المعظم لومړۍ نېټه ▣ ۲۰۱۵ زېږدیز کال د مې ۲۰ مه


# "بېنوایان"

## لوی استاد، علامه حبیبي ته منسوبه پښتو ژباړه؟


◉ څېړنپوه نصرالله ناصر


علامه حبیبي (۱۲۸۹ - ۱۳۶۳ لمریز) یو له هغو نومیالیو او پېژندل شوو پوهانو څخه دی، چې پر خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په دري ژبه کې هم د ډېرو مهمو آثارو لیکوال دی، هغه په اردو ژبه هم آثار لیکلي او په ځینو نورو ژبو کې یې هم قلم چلولی دی.

د استاد حبیبي د آثارو په اړه ډېرو څېړونکو او لیکوالو قلمونه را اخیستي او خپل اخلاص یې څرګند کړی دی، له دې جملې څخه ځینو د هغه د چاپ او ناچاپ آثارو فهرستونه کښلي، چې په موقوتو او غیر موقوتو خپرونو کې خپاره شوي دي.

دغه فهرستونه که څه هم ګټور دي او د اوډونکو زیار یې د ستاینې وړ دی، خو ځینې تېروتنې په کې لیدل کېږي، په یوه فهرست کې (د پښتو او پښتونواله، افغاني او افغانیت)(۱) نومی اثر دوه بېلابېل آثار ګڼل شوي، په داسې حال کې چې دا یو اثر دی، دغه تېروتنه له دې څخه رامنځ ته شوې، چې د اثر نوم په دري ژباړل شوی، همدا لامل دی چې پوهان د خاص نوم له ژباړې څخه پر ډډې کولو ټینګار او تأکید کوي او وایي، چې خاص نومونه باید ونه ژباړل شي، ځکه چې له یوې خوا خپله آره معنا او مفهوم له لاسه ورکوي، له بلې خوا د دغه ډول ستونزو لامل ګرځي، چې عملاً یې وینو. ښایي ورته ستونزه د "بېنوایان" له ژباړې څخه چې کله په "بېچاره ګان" او کله هم په "بېوزلان" ژباړل شوی، راولاړه شوې وي.

که څېرې پښتو او پښتونواله، افغاني او افغانیت یو اثر وګڼل شي، په دې سره هېڅکله هم د استاد حبیبي د آثارو کمښت نه احساسېږي، ځکه هغه دومره آثار لیکلي، چې له قد سره یې برابر وو، د ځانګړو آثارو شمېر یې له سلو اوړي او د ځینو په اند یې شمېر (۱۳۲) ته رسېږي.(۲)

په هرحال، دلته زموږ د بحث موضوع د استاد د آثارو پېژندنه، نه ده، بلکې هغه ته په یوې منسوبې ژباړې لنډې خبرې کوو، چې ایا دغه اثر "بېنوایان" استاد حبیبي د "بېوزلان" او یا "بېچاره ګان" په نامه په پښتو ژباړلی او که نه؟ که ژباړلی یې دی، څېرې خپور شوی او که نه دی خپور شوی، لاس کښلې نسخه یې چېرې ده؟

د علامه پوهاند عبدالحی حبیبي د ژوند، اند، شاعرۍ، لیکوالۍ او آثارو په اړه، چې لا ژوندی و، ځینو کورنیو او بهرنیو لیکوالو او پوهانو څه ناڅه لیکنې او څېړنې کړې وې او په دې باب یې خپل نظرونه څرګند کړي وو. همدارنګه د هغه له خواشینوونکې مړینې وروسته هم د ده دوستانو، شاګردانو، خواخوږو، کورنیو او بهرنیو څېړونکو او لیکوالو؛ د ده د شخصیت، ژوند، اند او آثارو په اړه پراخې څېړنې ترسره کړې او آن رسالې او کتابونه یې پرې لیکلي دي. د علمي – فرهنګي شخصیت د روښانولو په منظور یې په اړه څېړنغونډې او سیمینارونه جوړ شوي، ځینو یې نظمونه او شعرونه روح ته ډالۍ کړي او په یوه نه یوه بڼه یې هغه ته خپل ارادت څرګند کړی دی. که څه هم، دا مهال زه لا په مبتدي لیکوالو کې هم نه وم شمار (که رښتیا ووایم اوس هم لا لیکوال شوی نه یم) ما هم قلم را واخیست او د استاد حبیبي شخصیت ته د درناوي او د ده په یاد کې د ګډون په پلمه مې د خپل درانه استاد زلمي هېوادمل په مرسته او سلا د "لوی استاد پوهاند حبیبي او ترجمې" تر سرلیک لاندې یو څه ولیکل او د زېري جریدې د ۱۳۶۳ لمریز کال په یوه ګڼه کې مې خپاره کړل.

کله چې "د استاد یاد" د مقالو ټولګه د ښاغلي هېوادمل له خوا تدوین شوه، زما لیکنه یې هم په دې ټولګه کې خپره کړه، په دې لیکنه کې پر "بېنوایان" سربېره د استاد حبیبي ځینې نورې ژباړې هم معرفي شوې دي، چې په هغو دلته خبرې نه کوم.

ما د خپل درانه استاد د شفاهي یادښت پربنسټ، چې "د افغان یاد" د مقالو ټولګې په حواله یې راکړی و، د "بېنوایان" اثر په اړه خپله لیکنه داسې غځولې وه:

"بېنوایان: د نړۍ د نامتو لیکوال ویکتور هوګو مشهور اثر دی، چې د بېنوایان په نامه په پارسي ژبه ترجمه شوی دی او لوی استاد د بېچاره ګان په نامه په پښتو ژباړلی دی او د طلوع افغان د پښتو کېدو په لومړیو کلونو کې پرله پسې په دې اخبار کې چاپ شوی دی، البته له ۱۳۱۰ لمریز کال څخه وروسته". (۳)

پورتنی مطلب "د افغان یاد" نومې ټولګه کې چې په ۱۳۶۰ کال خپره شوې، داسې راغلی دی:

"په افغاني مطبوعاتو کې (تر کومه ځایه چې ما ته پته ده) د ویکتور هوګو بېنوایان


دوهم مخ

# وروستنۍ خدای پاماني

▣ استاد حبيب الله رفيع

(۱)

نن يې غږ بېخي بدل و،
غږ يو نيولی و،
ژړغونی و
او له ورايه برېښېده چې څه د غم خبر لري !
هو !
هسې خو "شاهنواز جانباز" ماته هر وخت ټلېفون کوي
د "بي بي سي" له پاره خبرې سره کوو
او معمولاً د ادبي مسايلو او د ماشومانو د مسايلو په باب سره غږېږو.
خو نن يې له لومړي غږ سره اکر بکر بدل و
سلام او ستړي مه شي مو سره وکړل،
بيا غلی شو
ژبه يې بنده شوه
لکه څه چې غواړي، خو ويلی يې نه شي
زما اندېښنه زياته شوه،
ترې ومې پوښتل :
خيريت و؟
په ډېر وروغږ يې وويل :
لکه چې "ساهو" په حق رسېدلی وي !
ما په وارخطايۍ ورته وويل :
نه! چا به غلط خبر درکړی وي،
ساهو په سوات کې دی،
هغه دوې شپې مخکې له ماشومانو سره سوات ته تللی !
ده راته وويل :
فکر کوم چې سوات ته نه وي لاړ شوی !
ما بيا په وارخطايۍ وپوښتل :
تا ته چا خبر درکړ؟ تا ته چا وويل؟
ده بيا په نيولې لهجه وويل :
ماته چا خط پرې ايښی، د "لودين" په نامه !
ما ويل :
لودين صاحب خو يې خسر دی !
ويل يې :
نه د اوښي خط يې دی !
ما ويل :
بس د اوښي خط يې چې دی، غلطه نه ده !
ده وويل :
جنازه يې په څلور بجې کېږي، ملګري خبر کړه !
خدای پاماني مې ورسره وکړه او غوږۍ مې کېښوده.

(۲)

سخت ټکان مې خوړلی و،
د لېونيو غوندې له ځان سره سرشوم :
ساهو خو رک روغ و،
هغه څنګه مړ کېدی شي؟
کېدی شي موټر يې ټکر کړی وي؟
کېدای شي په ترافيکي پېښه کې...
د "مړ شوی وي" کلمه مې په خوله کې بنده شوه،
لا تراوسه مې يې د مرګ تصور نه شو کولای
دا کلمه مې پر خوله نه راتله
ځکه ساهو فقط درې ورځې مخکې له موږ سره
په افغان ادبي بهير کې و
بيا را ياد شول :
چې ده د بهير د غونډې په منځ – منځ کې
د سټېج چارې "بازمحمد عابد" ته وسپارلې
او ويې ويل :
زه اوس چېرته ځم، کار لرم، سټېج به عابد چلوي !
وريسې يې زياته کړه :
زه په اوږده سفر روان يم،
يوه مياشت نه راځم !
بيا يې د خپلې هميشنۍ موسکا په ترڅ کې وويل :
"خدای پامان!"



دریيم مخ

# پښتو ژبه

✒ څېړنپوه عبدالرحيم بختانی خدمتګار





د پښتو ژبې، فرهنګ، ادبياتو او د پښتنو د اتنوګرافۍ په اړه له ډېرو پخوا زمانو نه تر اوسه پورې د بهرنيو او کورنيو ليکوالانو له خوا ډېر کتابونه تأليف شوي دي، چې زمونږ په لاس کې نشته. يو د هغو کتابونو له جملې څخه د "پښتو ژبه" په نوم کتاب دی.

د دې کتاب ليکوال د روسيې ختيځ پوه نيکولای الکساندرو ويچ دوريا نکوف دی، چې نږدې پنځه پنځوس کاله پخوا په روسي ژبه خپور شوی دی.

په دې برخه کې د دې کتاب په اړه لنډ معلومات وړاندې کوم.

د شلمې ميلادي پېړۍ په شپېتمو کلونو کې د معاصرې پښتو ژبې د زده کړې او مطالعې له پاره ضرورت و، چې يو عمومي هر اړخيز اثر په دغه موضوع کې وليکل شي، يعنې مکمل پښتو ګرامر جوړ شي، ترڅو د وخت غوښتنو ته ځواب ووايي او د ختيځ پېژندونکو او پوهانو د پراخ ګروپ له پاره خدمت وکړای شي او د دوی د استفادې وړ وګرځي. دا رنګ اثر په ۱۹۶۰ ز کال کې منځ ته راغی، چې هغه د نيکولای الکساندرو ويچ دوريا نکوف ګرامري اثر "پښتو ژبه" ده (۱).

دوريانکوف د پښتو ژبې او ادبياتو په برخه کې تر شپېتو زيات آثار ليکلي دي، چې د هغه له جملې څخه يو هم د "پښتو ژبه" کتاب دی. دا کتاب په روسي ژبه کښل شوی او د پخواني شوروي اتحاد د علومو اکاډمۍ د آسيا د خلکو انستيټيوټ له خوا په ۱۹٦۰ز کال په ۹۷ مخونو کې د مسکو د ختيځو ادبياتو په مطبعه کې چاپ شوی دی (۲).

په دې کتاب کې د خطونو او د پښتو ژبې فونيټيک په اړه اطلاعات، لنډې ګرامري ليکنې او د متونو ځينې نمونې له ژباړې سره يو ځای چاپ شوې دي.

له دې پرته، د کتاب ليکوال د پښتو ژبې دا اساسي دورو، مهمو ادبي پېښو او له پښتو ژبې سره د نورو ژبو د نږدېوالي په اړه څېړنه تر سره کړې ده (۳).

دا چې دا کتاب نږدې **۵۵** کاله پخوا چاپ شوی دی او د افغانستان په کتابخانو کې نشته، ما د انټرنټ په مرسته يوازې د دې کتاب څلور مخونه (۲۴، ٦۴، ۴۴ او ۸۷) پيدا کړل. په دې برخه کې غواړم، د نوموړو مخونو د محتوياتو په اړه لنډ معلومات وړاندې کړم:

د ياد شوي کتاب په **۴۴** مخ کې په پښتو ژبه کې د اعدادو د ويلو او ليکلو په برخه کې مفصله څېړنه شوې ده، چې ځينې برخې يې دلته وړاندې کوو:

په پښتو ژبه کې دا عدادو ترتيب د مذکر جنس له پاره د (م) په حرف او د مؤنث جنس لپاره

څلورم مخ

# طنز يا رغاونيزې سکونځارې

□ څېړندوی سيد نظيم سيدي

عام وګړي لا تر اوسه طنز او ټوکې ټکالې په خپلو ذره بينو سترګيو په يوه تالي کې ګوري او داسې انګېري، چې ګواکې طنز يعنې ټوکه او خندا، يوه شېبه طبيعت خوشحالول او هر ډول خپګان شا ته پرېښودل، له دې پرته چې پر دې فکر وکړي، چې کوم پيغام لري او که نه، خو چې انسان وخندوي، هماغه طنز دی. په داسې حال کې چې ادب څېړونکي له دغې خبرې سره نه يوازې همغږي نه دي؛ بلکې په جدي توګه يې ردوي او وايي: د طنز په وسيله د يوه قوم او ولس د معاشرتي او ټولنيز ژوند معلومات ځان ته څرګندولای شو (۱)، ځکه کله چې ليکوال طنز ليکلو ته اړ کېږي، هرومرو په ټولنه کې يو داسې تحرک يا خوځښت رامنځته شوی وي، چې ليکوال يې د طنز ليکلو ته اړ ايستی وي او دی هم په داسې هنر سره طنزپردازي کوي، چې ولس تر اغېزې لاندې راولي. د دې له پاره، چې طنز په سمه معنا وپېژنو، لاندې ځيرنو ته به پاملرنه وکړو :

طنز ته په انګرېزي کې (Satire) وايي او په بنسټيزه توګه د يوه داسې باشعوره، حساس او دردېدلي انسان د ذهن او عمل تجربه ده، چې د چاپېريال له لوړو، ژورو او بې اعتداليو څخه د عشق او مينې تخته جوړوي (۲).

خو ژبپوهان بيا په دې اند دي، چې طنز عربي کلمه ده، لغوي معنا يې ناز، کرشمه، پيغور، مسخره کول او رټل ده او په ادبي اصطلاح کې طنز يو ځانګړی ادبي صنف يا ژانر دی، چې په کې ټولنيز فساد او نادودې تر نيوکې لاندې نيول کېږي (۳)، خو ځينې ادب څېړونکي يې بيا داسې را پېژني:

✓ پر ټولنيزو بې لاريو، کږلاريو او نورو ناوړه چارچلن او سلوک باندې د ټوکو په جامه کې څه ليکلو او ملنډو وهلو ته طنز ويل کېږي.

✓ طنز هغه ادبي ژانر دی، چې د شوخۍ او خندا پر بنسټ منځته راځي؛ خو اصلي موخه يې پر ناوړتياوو او نيمګړتياوو ګوتنيونه ده (۴).

✓ د ټولنيزو نيمګړتياوو، په اداره کې فساد، د ژوند د مهمو مسئلو او بالاخره د ټولنيزو ستونزو د ملنډو او ريشخند په ډول ليکلو ته طنز وايي (۵).

د طنز په اړه دا او دې ته ورته ډېر تعريفونه شوي، چې په ټولو کې په همدې يوې خبرې ټينګار کېږي، چې طنز ټوکه نه ده او نه د ټوکې په جامې کې يوه خبره ده؛ ځکه ټوکه د چاودنې يا

دوهم مخ

د خورا پېرزو کوونکي، لورورونکي الله په نامه

# سرليکنه

## پښتو داستاني ادبيات

داستان په اصل کې په طبيعي ډول د هغو ترتيب شويو پېښو يوه ټولګه ده، چې پر ذهن اثر ښندي او لوستونکي ته يوه پايله په لاس ورکوي، چې له يوې خوا يې ادبي تنده خړوبوي او له بلې خوا يې د پوهې، معلوماتو او استدلال کچه لوړوي.

د ادبپوهانو په باور، د داستان په چوکاټ کې ليکوال خپل فکر او اند ځايوي او لوستونکو ته يې وړاندې کوي. ښايي ډېري داستانونه نارښتينې اړخ ولري او يا پېښې يې د ليکوال د ذهن پنځونه او تخليق وي، خو هغو د تخيل او د ليکوال د هنر په مرسته ښکلا موندلې وي. هغه څه چې د داستان د لوستنې او جذابيت لامل ګرځي، داستاني پېښه، هنريت، د ليکلو ډول او يو شمېر نورې ځانګړنې دي، چې اصلي مفهوم او رښتينی پيغام په نامستقيم او اغېزناک ډول په کې لوستونکو ته رسول کېږي.

دغه راز ويل شوي، چې داستان هغه منثور هنري اثر ته وايي، چې تر تاريخي ارزښت وړاندې د ليکوال د خپل نوښت، تخيل او هنر زېږنده وي. داستان د تاريخ پرښسته رښتيني وي، يا يې هم د تخيل له ځواک څخه سرچينه اخيستې وي.

په ظاهره خو په دې ډول ادبياتو کې بايد ټول هغه تخليقي ډولونه ونغاړل شي، هغه که نظم وي که نثر، خو چې يوه پېښه او کيسه بيانوي، ولې د نن ورځې د تعريف پرښسته، يوازې يو شمېر منثور تخليقي آثار د داستاني ادبياتو په حوزه کې شامليږي، لکه: لنډه کيسه، رومان، ناول، ډرامه او....

په داستاني ادبياتو کې، چې د ژوند په ځلولو او ښکلي کولو کې مهم رول لوبولی شي، د ټولنې لرغونې او اوسنۍ هڅې او زيارونه په کې تر سترګو کېږي، دغه راز دغه ادبيات د ولسونو د پېژندنې يوه ښه وسيله ده، ځکه د وګړو کړه وړه، عنعنه، ښه او بد، د ژوند شرايط او حالات په کې منعکس کېږي.

زموږ په هېواد کې په اوسني مفهوم د معاصرو پښتو داستاني ادبياتو تاريخي بهير د رواني لمريزې پېړۍ دويمې لسيزې ته رسېږي. په دې اوږدو کابو اتيا کلونو کې، سره له دې چې په دې برخه کې د پام وړ کار شوی او يو شمېر مهم آثار چاپ او خپاره شوي دي، خو دغه بهير په سمه توګه وده نه ده

دي، چې دی خوري او ترې رنځېږي او لامل يې هم دا دی، چې د ده په ذهن کې حقيقت او واقعيت ځالې جوړې کړې وي او دی په زغرده بيانول غواړي، خو خپرول، چې په لږ وخت کې يې خورا ډېر مينه وال پيدا کړل (۷)، کله چې د وخت نور ليکوال د دغه ژانر کمال ته ځير شول، هغوی يې هم پر کښلو تجربې

## بېنوايان...

لومړی ناول دی، چې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي د (بېچاره ګان) په نامه ژباړلی او د طلوع افغان د پښتو کېدو په لومړيو کلونو کې پرله پسې چاپ شوی دی (تر ۱۳۱۰ کال وروسته)". (۴)

همدارنګه د کابل مجلې د ۱۳۸۳ کال په ۵ - ۷ مه ګڼه کې په هغې مقالې کې چې د "تل ياد عالم، علامه عبدالحی حبيبي" تر سرليک لاندې، د استاد حبيبي د شلم تلين په وياړ خپره شوې وه، داسې نغوته شوې ده: "... د ويکتور هوګو ناول يې د بېوزلان په نامه ترجمه کړ....". (۵)

کله چې ما "د شلمې پېړۍ په فرهنګي – ادبي بهير کې د علامه حبيبي دريځ" تر سرليک لاندې علمي – څېړنيزه پروژه باندې کار پيل کړ، د استاد د ژوندانه او شخصيت بېلابېلو اړخونو د څېړلو ترڅنګ مې د هغه د آثارو په اړه هم لټون پيل کړ، د ده د آثارو بېلابېل خپاره شوي فهرستونه مې وکتل او همدارنګه مې د امکان تر پولې ټول هغه آثار هم مطالعه کړل، چې د استاد حبيبي د تأليفاتو او ژباړو په اړه په کې لږ و ډېر معلومات خپاره شوي وو. د "بېنوايان" اثر د ژباړې د موضوع د لا روښانولو په منظور مې "د افغان ياد"، "د استاد ياد" پر ټولګو او په کابل مجله کې پر خپرې شوې مقالې سربېره د طلوع افغان هغو کليکسونونو ته مراجعه وکړه، چې د استاد حبيبي د مسوول مديريت پرمهال خپاره شوي وو، يعنې له ۱۳۱۰ کال څخه تر ۱۳۱۸ پورې مې د دغې اوونيزې د بېلابېلو ګڼو پاڼې وپلټلې، خو د "بېنوايان" پښتو ژباړه مې ونه شوای موندلای، خو بالاخره د طلوع افغان د ۱۳۱۵ لمريز کال په ۳۴ مه ګڼه کې مې په لاندې ليکنه سترګې ولګېدې:

"جمعی از خوانندهگان محترم تقاضا فرمودند که جریدهٔ طلوع افغان در قسمت پاورقی خود قصص و روایات اخلاقی و اجتماعی که هم دارای روح ادبی جدیدی بوده و هم اخلاقاً نافع باشد، نشر نماید، اینک ما هم پس از این شماره بعضی از روایات شیرین و کوتاه نامورترین ادبای شرق و غرب را اقتباس خواهیم کرد تا قارئین عزیز از خواندن مفیدترین آثار ادبیه که به سبک جدید نگارش یافته محظوظ شوند". (٦)

په طلوع افغان کې پورتني خپاره شوي ټکي، موږ ته دا لاسوند په لاس راکوي، چې دغه اثر ژباړل شوی نه دی، بلکې د طلوع افغان د مينه والو د بيا بيا غوښتنې پرښسته يوازې د نامه او کرکټرونو د نومونو په بدلون را اقتباس او د دغې اوونيزې د ۱۳۱۵ کال په ۳۴ مه، ۳۵ مه، ۳٦ مه او ۳۷ مه ګڼو کې پرله پسې په فارسي ژبه چاپ او خپور شوی دی او په پښتو نه دی ژباړل شوی.

د "اينک ما هم پس از اين شماره بعضی از روايات شيرين..." له عبارت څخه دا هم په ډاګه کېږي، چې په خپله د دغه او دې ته ورته آثارو د خپرولو پرېکړه په ۱۳۱۵ کال کې شوې او له دې مخکې په ياده اوونيزه کې نه دي خپاره شوي.

زه له ډېر لټون سره سره، د خپلې علمي – څېړنيزې پروژې د بشپړېدو او بيا د چاپ او خپرېدو (۱۳۹۲ لمريز کال) تر مهاله په دې بريالی نه شوم، چې د "بېوزلان" يا "بېچاره ګان" په نامه د لوی استاد علامه حبيبي کومه ژباړه ومومم، نو ځکه ناچاره وم چې په خپل اثر کې د "بېنوايان" په نامه اثر استاد حبيبي ته منسوبه ژباړه وګڼم.

زما په اند، ښايي په "بېچاره ګان" او بېوزلان باندې د "بېنوايان" د نوم بدلون به د دې لامل شوی وي، چې دغه د علامه حبيبي پښتو ژباړه وګڼل شي.

د دې خبرې د سپيناوي او لا څرګند تيا له پاره وړانديز کوم، چې که چېرې په دقيقه توګه هر درانه ليکوال او څېړونکي ته د دې ژباړې څرک معلوم وي، د مرستې له مخې دې مهرباني وکړي او د موضوع په روښانتيا کې دې مرسته وکړي او په دې لاره کې دې خپلې علمي پېرزوينې له موږ څخه نه سپموي.

په پای کې بايد ووايم، که څه هم زه د خپلو څېړنو په بهير کې دې پايلې ته نږدې شوی يم، چې دغه اثر به غالباً په پښتو نه وي ژباړل شوی، بلکې په سرليک کې به د ځينو بدلونونو راوستل د دې لامل شوي وي، چې ځينې درانه ليکوال په هغه د پښتو ژباړې ګومان وکړي. په هر حال، له دې ټولو سره سره په دې اړه نورو څېړنو ته هم اړتيا ليدل کېږي.

اخځليکونه:


۱ - زندگينامهٔ استاد عبدالحی حبيبی به قلم خودش، ژوندون، د افغانستان د دموکراتيک جمهوريت د ليکوالو ټولنې خپرنيز ارګان، درېيمه ګڼه، ۱۳٦۱ کال، ۹۲ مخ.

۲ - نصرالله ناصر، د شلمې پېړۍ په فرهنګي – ادبي بهير کې د علامه حبيبي دريځ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، بهير مطبعه، ۱۳۹۲ کال، ۱٦۲، ۴۸۸ او ۵۳٦ مخونه.

۳ - نصرالله ناصر، لوی استاد پوهاند حبيبي او ترجمې، د استاد ياد، د زلمي هېوادمل په زيار، ۱۳٦۴ کال، ۱۹۳ مخ.

۴ - برېښ، د پښتو ننني ادب، د افغان ياد، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی، ۱۳٦۰ کال، ۸۲ مخ.

۵ - حبيب الله رفيع، تل ياد عالم، علامه عبدالحی حبيبي، کابل، ۵ - ٦ مه ګڼه، ۱۳۸۳ کال، ۴۹ مخ.

٦ - طلوع افغان، د ۱۳۱۵ کال ۳۴، ۳۵، ۳٦ او ۳۷ مه ګڼه.


## طنز يا رغاونيزې...

**کړي او نه هم لازم پوړ ته رسېدلی دی، چې دا ټول خپل عوامل او اسباب لري. په هېواد کې له نوي بدلون را وروسته، په تېره څه باندې یوه لسیزه کې په ټولو فرهنګي ساحو کې، چې له دې ډلې په ادبي ډګر او په ځانګړې توګه په داستاني ادبیاتو کې محسوس بدلون او مثبت خوځښت تر سترګو کېږي، چارې یې ګړندی او چټکې شوې، خو د دې له پاره چې په اوسني وخت کې، زموږ پښتو داستاني بهیر لا ښه او مناسبه وده ومومي، لازمه ده چې :**

- ✓ **د دې برخې د ښې او منځپانګې ودې او پرمختیا ته ټول او په ځانګړې توګه هغه لیکوال، چې د داستاني ادبیاتو په لیکلو کې یې لاس بر دی، لازمه پاملرنه وکړي.**
- ✓ **د داستاني ادبیاتو د کره کتنې له پاره مناسبې لارې چارې برابرې شي. په دې اړه د آزادو فرهنګي او ادبي ټولنو شته والی، د داستاني ادبیاتو له ودې سره ښه مرسته کولی شي.**
- ✓ **له یو شمېر ښکلو داستاني لیکنیو سوژو څخه دې، چې زموږ له ټولنې او فرهنګ څخه تومنه اخلي، استفاده وشي او زړه راښکونکي افغاني فلمونه، ډرامې او سریالونه دې ترې جوړ شي.**
- ✓ **په علمي او تحصیلي مؤسساتو کې دې د داستاني ادبیاتو تدریس او زده کړې ته ځای ورکړل شي او مینه وال لیکوال او محصلین دې یې لیکلو ته وهڅول شي.**
- ✓ **د بېلابېل ډول داستاني آثارو نړیوالې بېلګې دې له پرمختللیو ژبو پښتو ته را وژباړل شي، چې له یوه پلوه مو ادبیات بډای شي او له بل اړخه له نړیوالو ادبیاتو سره آشنایي پیدا شي.**
- ✓ **او تر ټولو مهمه دا چې د داستاني آثارو چاپ او خپراوي ته دې لا غوره لارې چارې برابرې شي.**

**که پورته یادو او ځینو نورو ټکو ته لازمه پاملرنه وشي، نو لرې نه ده، چې د داستاني ادبیاتو په برخه کې به داسې ارزښتمن او تلپاتي آثار رامنځ ته شي، چې یو مهال به په سیمه ییزه او نړیواله کچه مطرح او معرفي شي، ځکه زموږ په هېواد کې په تېرو څو لسیزو کې داسې حالات او شرایط تېر شوي او لا هم روان دي، چې په هر وګړي د دردونو او کړاوونو بېلابېلې ځپې تېرې شوې دي، دغه راز مو هر کلی، هره سیمه او هر ښار د ګڼ شمېر پېښو او نادودو شاهد دی، چې که لیکوال قلم راپورته کړي، نو مبالغه به نه وي، چې د هر قدم په اخیستو او هرې هڅې په کولو سره به یو ارزښتمن داستاني اثر وپنځوي.**

**په همدې هیله**

انفلاق یوه داسې نقطه لري، چې ناڅاپه را درز وهي او آن سخت زړي انسانان هم خندا ته اړ باسي، خو طنز بیا ډېر ځله دغسې د چاودنې ټکی نه لري، خو د موسکا او کله ناکله تر موسکا هم وړاندې ځي او سپورې شونډې داسې پرانېزي، چې په کې په لسګونه ډوله دردونه او خپګانونه نغښتي وي، چې هر یو یې ځوابول او چا ته ځیرل غواړي، چې یا نه دي ځواب شوي او یا هم قانع کوونکي نه دي.

نو که چېر ته پورته خبره ومنو، بیا ویلای شو، چې د طنز الفاظ په ساده وو کې داسې رنګین وي، لکه په لیکوالو کې چې کره کتونکی وي، ځکه د طنز الفاظ ډېرې سیمانتیکي معناوې لري او د هرې خبرې د معنا شا ته یې بله معنا نغښتې وي. د ساري په ډول، که چېرې کوم زده کوونکی ښوونځي ته ناوخته لاړ شي او ښوونکی ورته ووایي، چې بچیه! لکه چې لاره تیاره وه، کاشکې دې څراغ درسره راوړی وای. دا په خپله یو طنز دی، چې هم ماشوم او هم د ماشوم کورنۍ ته ځیر دی، چې ایا سهار وختي را پاڅېږي او که نه او ایا اودس لمونځ کوي او که نه او دې ته ورته نور ایا؟

په هر حال! که په دقیقه توګه د طنز حقیقي معنا ته سترګې پر سترګو کړو، په خپله دې پایلې ته رسېږو، چې طنز په واقعیت کې د انسان او ټولنې د روحي او نفسي مسایلو ترجمان ژانر دی، چې په وسیله یې نه یوازې د انسان د زړه غوټې وا کېږي، بلکې سکون هم مومي او ښایي په منظمو ټولنو کې پرې د بې عدالتیو ټغر هم ټول شي او پر انضباط سربېره سمون او رغون هم رامنځ ته کړي یا په بله وینا، طنز په واقعیت کې له غوسې او کرکې څخه هغه ډکه خندا او موسکا ده، چې له یوې خوا مخامخ لوری (لوستونکی او اورېدونکی) خندوي او له بلې خوا د بد، ناوړه او کرغېړن چارچلند پر وړاندې د خلکو او په ټوله کې د ولس غوسه را پاروي او په حقیقت کې هغوی یې پر وړاندې پاڅون ته هڅوي (٦). همدا لامل دی، چې ادب څېړونکي طنز داوري بولي، چې معمولاً قضاوت او پرېکړه کوي او د پرېکړې بنسټ له مینې، خیر، ښېګڼې، جمال، ښکلا، حقیقت او رښتیا څخه خړوبېږي او بویه، چې د دې خبرو پېژندنه او معنا په کې انځور شي.

طنز ویونکی، تل په دې هڅه کې وي، چې یوه ایده الي ټولنه ولري، داسې ټولنه چې پر حقیقتونو ولاړه وي او هېڅکله خیانت، جبر، ظلم او تېری په کې نه وي؛ ځکه طنز ویونکی یا طنز لیکوال له دغو ښکارندو څخه ډېر بد وړي او همدا یوازېنۍ پدیدې کړۍ پرې ډېره تنګه وي او د همدغه طنز په وسیله ترې ځان او ولس ژغورلای شي.

څېړونکي وایي، طنز د وینا یا بیان له مخې په دوه ډوله دی، چې یوه ته یې تمثیلي او بل ته یې تفسیري طنز وایي. تمثیلي طنز هغه دی، چې یوه جدي پېښه په ښکاره داسې انځور کړي، چې ګواکې ټولې ټوکې او ملنډې دي؛ خو په حقیقت کې به یې داسې نا لاس وهلو ځایونو ته ګوتې ور وړې وي، چې اصلي راز به یې را بربنډ شوی وي، خو په تفسیري طنز کې بیا پېښه نېغ په نېغه له نیوکې سره یوځای د هزل په کالب کې وړاندې کېږي، چې ډېر ځله د دغه ډول طنز هضمول هم د ټولنې پښتنۍ ماتوي؛ خو په حقیقت کې یې رغوونکی دی.

که د خپلو خبرو لمن یو څه را ونغاړو، طنز د انسان د ذهن هغه خارق العاده پنځونه ده، چې د ټولنې ټول اخلاقي، عقلاني او ټولنیز مسایل په یوه شېبه کې د ټولو انسانانو له سترګیو تېروي او دې ته یې ځیروي، چې ټولنه په کوم لوري روانه ده او کومه خوا ته باید لاړه شي.

د طنز او په ټوله کې کابو د ټولو ادبي ژانرونو د تاریخ په اړه ویل کېږي، چې هغه وخت وپنځېدل او یا یې د پنځېدلو فکر پیدا شو، چې کله په نړۍ په ځانګړې توګه لوېدیځو هېوادونو کې له کلیساګانو او پاپانو څخه واک لاړ او د لیکوالو، سیاستوالو او اقتصادپوهانو قربانیو حالات له یوې مخې بدل کړل او تیاره دوره یې د رڼا یا رنسانس پر دوره بدله کړه. کله چې د رنسانس دوره پیل شوه، نو په دغه وخت کې هغه ژانرونه، چې له دغې دورې مخکې زېږېدلي وو، نور هم ځلاند او وتراشل شول او هغه چې لا پنځېدلي نه وو او د پنځېدلو اړتیا یې محسوسېدله، وار په وار له شپاړسمې پېړۍ پیل او تر شلمې پېړۍ پورې وپنځېدل، چې له یوې خوا یې په ټولنه کې سمون او رغون رامنځ ته کړ او له بلې خوا یې لوېدیځ او په ټوله کې نړۍ په دې وپوهوله، چې نور نو د تورتم دوره تېره شوې او هر چا ته په کار دي، چې خپل اواز په ستوني کې زندۍ نه، بلکې اوچت کړي او همداسې وشول، خو پیلامه یې هم همدغو ښاغلو کوله او د بلې ژبې ادب ته یې د خپلې حوصلې او وړتیا او ځواک اندازه ور جوتوله، چې څومره ده او څنګه باید وي.

له نېکه مرغه، د نورو ادبي او هنري ژانرونو په لړ کې طنز هم په شلمه پېړۍ کې پښتو ادب ته لار پیدا کړه او د پوهانو په اند، لومړی ځل اروابښاد پوهاند عبدالحی حبیبي یې له مخه پرونی لرې او ننداره یې پر افغان ځپلي او دردېدلي ولس وکړه. پوهاند حبیبي خپل لومړني طنزونه د طلوع افغان په خپرونه کې پیل کړې، چې له نېکه مرغه بریالۍ وې او په پایله کې یې د اروابښاد عبدالرووف بېنوا "د زړه خواله"، عبدالاحد وحید "لویه کورنۍ"، منان ملګری "شریک بالا پوش"، اروابښاد الفت، قیام الدین خادم، سعد الدین شپون، عبدالله بختاني، کاتب پاڅون، محمود نظري او دې ته ورته نورو لیکوالو څېرې یې وځلولې او په طنز لیکنه کې یې اوچت ځای وموند.

که له افغانستان نه پښتونخوا ته واوړو، هلته هم دا تجربه بریالۍ وه او له افغانستان نه یې مهالي واټن ډېر وړاندې ځي، په دې معنا چې په پښتونخوا کې لومړی پلا لنډې طنزي لیکنې اروابښاد قاضي میراحمدشاه رضواني کړي، چې "شکرستان افغاني او بهارستان افغاني" نومېږي. په دغو آثارو کې لنډه، خو له پند او معنا ډک طنزونه راغلي، البته ډېری یې د ټوکو په بڼه هم دي، خو ډېرو ته یې د طنز ژانر د جوړښت له مخې طنز ویلای شو.

له رضواني وروسته د اروابښاد راحت زاخېلي نوم هم د یادولو دی، چې په دې برخه کې یې خورا ښه طنزونه پنځولي او له ده وروسته بیا د فلسفي او ناقد شاعر خان عبدالغني خان، محمد نواز خټک، دوست محمد کامل، حسن خان سوز، عبدالله جان مغموم، سعد الله جان برق، محمد همایون هما، پیر ګوهر، ډاکټر محمداعظم اعظم او دې ته ورته د نورو نومونه د یادولو وړ دي، چې په دې برخه کې، خورا د پام وړ کار کړی او هنري طنزونه یې پنځولي، چې نه یوازې یې ځان له وجداني عذابه خلاص کړی؛ بلکې د وخت چارواکي یې هم پرې داغلي دي، چې ډېرو یې د طنز لیکوال د تورو تمبو د دالو او پیاتي مېلمانه کړي هم دي، چې له امله یې د دوی قلم ګړندی او سکونډونکی شوی او لا کېږي.

سرچینې :


١) مشتاق مجروح یوسفزی، زرکانی، یونیورسټی بُک ایجنسي، پېښور، ٢٠١٠ زېږدیز کال، ٢١١ مخ.

٢) رفیع الدین هاشمي، ادبي ژانرونه، د سرمحقق عبدالرحیم ځدراڼ ژباړه، الازهر خپرندویه ټولنه، پېښور، ١٣٨٥ لمریز کال، ٣٢ مخ.

٣) څېړنوال سید محی الدین هاشمي، د نثري ادب ډولونه، وحدت خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ١٣٨٩ لمریز کال، ٢٧١ مخ.

٤) د نثري ادب ډولونه: ٢٧٣ مخ.

٥) زلمی هېوادمل، فرهنګ ادبیات پښتو، (درېیم ټوک)، انتشارات کمېټه دولتی، دولتي مطبعه، ١٣٦٦ لمریز کال، ١٥٠ مخ.

٦) سید محی الدین هاشمي، د لیکوالۍ فن (دویم چاپ)، میرویس کتابپلورنځی، پېښور، ١٣٨٣ لمریز کال، ١٠٠ مخ.

٧) د نثري ادب ډولونه: ٢٩١ مخ.

## وروستني...

نن يې د ټولو ورځو په خلاف خبرې لوړې وې،
ځکه چې د افغان ادبي بهير درېځ له همدې
ننۍ غونډې سره ميکروفون موندلی و.
او د ده خدای پاماني يې ټول انګړ کې انګازه
کړه.
له دې سره دی د انګړ د لوېې دروازې خواته
روان شو،
زه چې ستېج ته مخامخ ناست وم
سترګو مې تر هغه وخت وڅاره، څو چې له
سترګو الوتيا کېده
او له وره څخه ووت.
دا کتل او څارل مې غير ارادي وو
لکه چې سترګو مې غوښتل:
چې په دې وروستي ديدار کې يې د ليدو تر
وروستي امکانه ووينم!

(۳)

د ساهو د مړينې ناڅاپي غږ،
زما مغز ته سخت ټکان ورکړ،
زما د ذهن ټولې محفظې يې وخوځولې،
زما خاطرې يې تصويري او ژبغږاندې کړې
او زما او د ده د پېژند ګلوۍ او اشنايۍ اوولس
کلن فلم يې راته کېښود!
لومړنی صحنې تتې وې،
په عادي ناستو پاستو او تصادفي ليدنو
کتنو ولاړې وې،
خو ورو-ورو صحنې روښانې،
زما او د ده تعلقات نژدې کېدل،
ارادي کېدل
او تر ګډو دفتر او ادارې پورې رسېدل!

(۴)

د "پسرلي" صاحب له شاعرۍ سره زه له
ماشومتوب نه اشنا وم،
خوند مې ترې اخيست او خوښېدله مې،
خصوصاً د "ښارو" ترانې مې يې ډېرې خوښې
وې
او بيا بيا به مې لوستې!
ما ډېره هيله درلوده چې په افغانستان کې
ورسره وګورم

راوبهېده، چې د مجاهدينو رواني حالت، خپل منځي اړيکې، ژوند او کړه وړه په خوږه داستاني ژبه بيانوي او د شاوخوا جګړې ځپلي محيط عکاسي کوي.

(۶)

د پسرلي صاحب انجمن د ۱۳۶۳ کال په زمري کې په دې وتوانېده چې له خپله کوره
سپېدې راوباسي،
ادبي سپېدې او د جګړې په تونديو اورونو کې
تاند ادبي ګلونه
ساهو د سپېدې پنګه ورو چې ما به ورته وزير
مال وايه،
زه هم له دې انجمن او له دې سپېدو سره ملګری
شوم
او په يوه منظوم ليک کې مې چې له کوټې نه په ۱۳۶۴/۴/۱۲ نېټه د پسرلي په نامه رالېږلی و، د دې انجمن او د هغې د وزير مال په باب داسې ليکلي وو:

"پسرلي" صاحب ته وايم سلامونه
زه له کوټې، کوټې-کوټې، غرونه-غرونه
ها "پسرلي" ته چې يې تل ګلان غوړېږي
د ادب ورمې يې هره خوا خورېږي
ورپسې مې په هغه "چشتي" سلام دی
چې پسوللی په اخلاص يې هر کلام دی
وو بې ترې نوی-نوی مخمس ته
اوس يې ورې يو بې حده مسدس ته
بيا د زړه توتې زما په پر او بال دی
هغه چاته چې زموږ "وزير مال" دی
د "سپېدې" د ژوند "امان" په "ساهو" کېږي
او که نه دغه بېړۍ مو لاهو کېږي
بيا سلام زما په هغه "غضنفر" دی
چې "اسد" دی، زمري، شېر ببر دی
که کار وکړې افساني به يې شهکار شي
خو "سانسور" ترې کله ځای پر ځای
"سنګسار" شي
ورپسې زما سلام په "عصمت جان" دی
چې تاريخ يې ژوندی کړی د "شېرخان" دی
له "لاهوره" يې مدام "سپېدې" خورېږي
خو افسوس چې کله کله ترې ځنډېږي
دې "اجمل" ته مې سلام او پېرزوينې
چې مې سترګې يې سبا ته هيله منې

غرض له پاره مرستې کوي، موږ بايد له موقع نه اعظمي استفاده وکړو او "سپېدې" په ګڼو مخونو کې راوباسو.
همدا د ده مينه او ټينګار و، چې په وروستيو وختونو کې د سپېدې هره ګڼه تر څلور سوو مخونو واوښته او ده هڅه درلوده، چې نوره هم چاغه او غوښنه شي.
رښتيا هم سپېدې په داسې وخت کې چې د افغانستان کلتور ته يې زيات خدمت کولای شوای، دا ځل هم د ۱۴ ګڼو تر خپرېدو وروسته بنده شوه.
او په اصطلاح: د لېونی حاجت پوره شو...
ساهو تر دې وروسته د خپل کور بار په اوږه واخيست، واده يې وکړ، له "ميني" او "حمزه" سره بوخت او خپلو ليکنو ته ځاروشو.

(۹)

ساهو له خپلو ټولو ملګريو سره صميمي و،
په مالګينه خندا به له ملګرو سره مخامخ
کېده،
له ما سره يې خاص صميميت و.
له يوې خوا د مشرتابه له درناوي ډک
او له بلې خوا بې آلايشه او له تشريفاتو تش.
په هر ليده کاته کې به يې له ما نه زما د نوي
کار پوښتنه کوله.
زما وېښته معمولاً ګډوډ او پرېشانه وي،
ده به مې وېښتو ته وکتل،
وبه يې خندل
او په ډېر صميميت به يې راته وويل:
زما ستا وېښته همداسې ګډوډ ښه ايسي
رمنځوه يې مه!
همداسې ډېر ښه دي!

(۱۰)

ساهو هم خوږ نظم ليکلای شو او هم خوږ نثر،
ده غزليزه شاعري هم کوله،
مقيد نظمونه يې هم ويل
خو آزاد نظمونه يې ډېر خواږه او ډېر کامياب
وو
"لکيرې" د ده د آزاد شعر يوه نه تماميدونکې
لړۍ وه
کله کله به يې په بهير کې يوه يوه کړۍ ترې
اوروله

ترکستان سفر"،
د حمزه بابا "د کابل منظومه سفرنامه"، "نوی
پښتون" او "د حجاز په لور"،
د طاهر اپريدي "سفر په خير"، "سفر مدام
سفر"،
د سيده قانته بېګم "زما سفرنامه"،
د پوهاند رښتين "د هند سفر" او "د ننګرهار
ننداره"
او داسې نورې ګڼې سفرنامې
خو زه په جرئت حکم کوم چې د ساهو "د ياقوتو چينه" تر دې ټولو خوږه ده او د تور غره د تورو کاڼو په منځ کې واقعاً د ادب د ياقوتو پر چينه ورپېښ شوی چې عادي پېښې يې په عالي ژبه او ژور نظر کې ادبي کړې دي.
د دې سفرنامې هره برخه د يوه بېل داستان بڼه لري او يو بېل عنوان.
لس برخې يې په سپېدې کې چاپ شوې وې،
چې سپېدې تتې شوې او دا سفرنامه له ليکلو
پاتې
خو ما پر ده تل ټينګار کاوه
چې دا ښه او خوږه سفرنامه پای ته ورسوي او
انجام ته
په وروستيو کلونو کې يې داډ راکاوه چې:
د ياقوتو چينه پوره شوې ده
خو ما لا په بشپړ شکل کې لوستې نه ده
او که خپره شي، په پښتو ادب کې به هم داسې
يوه قيمتي پانګه وي
لکه نوم يې چې قيمتي او خوږ دی!

(۱۲)

ساهو په وروستيو مياشتو کې د يوه ناول په
ليکلو بوخت و
د ده د وينا له مخې، هغه يې هم پای ته رسولی
چې باور دی، هغه به هم داسې خوږ او قيمتي
وي، لکه د ده سفرنامه
او زه اټکل کوم چې داسې ښکلی ناول به وي
چې د پښتو د ګڼو ناولونو ترمنځ به لوړ مقام
ومومي او عالي ځای.
پردې سربېره، ده ګڼې ترجمې هم درلودې
او ګڼې خورې ورې اجتماعي او ادبي ليکنې
هم
چې ټولې لټون غواړي او راغونډول

۱) تاسو له څو کلنۍ څخه په ليک او شعر ويلو پيل کړی دی او انګېزه يې څه وه؟
۲) ستاسو لومړنی شعر که ستاسو په ياد وي، راته وليکئ!
۳) د پښتو په کلاسيکو شاعرانو کې ستاسو د خوښې شاعر څوک دی او ولې دی؟
۴) په کلاسيک شعر کې ستاسو منتخب شعر، البته يو بيت راته وليکئ!
۵) په حاضرو ليکوالو کې ستاسو د خوښې ليکوال او شاعر څوک دی او د خوښې وجه يې څه ده؟
۶) د خپل ژوند تر ټولو خوږه خاطره راته وليکئ!
۷) د ژوند ترخه خاطره مو کومه يوه ده؟
۸) په خپل ژوند کې له کوم شخصيت نه متأثره شوي ياست؟
۹) کومه موسيقي مو ډېره خوښه ده او د کوم سندرغاړي غږ مو خوښ دی؟
۱۰) په ليدليو وطنونو کې مو کوم يو ډېر خوښ شوی دی؟
۱۱) د نړۍ په ښارونو کې مو کوم يو خوښ دی او ولې؟
۱۲) په خپلو اولادونو کې مو کوم يو ډېر درباندې ګران دی؟
۱۳) په خوراکونو کې مو کوم خواړه خوښ دي او د خپلې خوښې مېوه مو هم راته په ګوته کړئ!
۱۴) په کوم کال کې زېږېدلي ياست، د کلي نوم مو څه دی؟
۱۵) د تعليم درجه مو څومره ده؟
۱۶) څو جلده کتابونه مو تأليف، ترجمه او تخليق کړي دي؟
۱۷) څه ډول فلم او ډرامه مو خوښېده؟
هيله ده چې په لنډه توګه يې ځواب راکړئ!"
هو!
"بنده لرې ننبلولي مرګي لار ورته نيولې!"
دی د ادبي پختتابه په اوج کې و،
ده ډېرې هيلې په زړه کې درلودې
او ډېرې ليکنې په مغز کې
دی ځوان، نوښتګر او دراک شاعر او ليکوال و
ده ډېر څه غوښتل چې وليکي
او د کار ډېرې نقشې ورسره وې
خو د مرګ ناڅاپي يرغل

یو وخت زه او هېوادمل صاحب تر کندوز پورې هم پسې ولاړو
خو د لیدو نصیب مو نه و...
نو هماغه وچې له پسرلي صاحب سره مې لیده د مهاجرت په محیط کې وشول،
خو پسرلی صاحب یوائې نه و،
بلکې یو ځانګړی انجمن و،
ساهو، غضنفر، عصمت، اجمل او ایمل د دې انجمن غړي وو
هر یوه هنر درلود،
ځانګړی هنر!
په کور کې به یې تل تود ادبي بحث روان و،
د دیموکراسۍ په فضا کې
او په بشپړه ازادۍ
تنقیدونه به په کې کېدل، حتی د خپل پلار پر ادبي آثارو یې هم!
دا فضا زما ډېره خوښه شوه
هر وخت به مې چې وخت موند، ورتلم به
او له ساهو سره مې له همدې ځایه پېژند ګلوي پیل شوه!

(۵)

ساهو پوهنتوني زده کړې په کابل کې ترسره کړې وې
او بیا د خپلې کورنۍ د مهاجرت مخکښ شو،
تر خپلې ټولې کورنۍ وړاندې پېښور ته راغی،
دلته یې د نظري زده کړو پر ځای د عملي مشاهدې دوره پیل شوه
د جهادي تنظیمونو ژوره او دروني مطالعه یې وکړه
او د دوی د کړو وړو په باب عجیبې خاطرې ورسره وې،
له پاکستان نه ایران ته هم په همدې بهیر کې ولاړ،
د هغې ځای د اوضاعو یې هم ژوره مطالعه وکړه،
بیا بېرته راستون شو،
یوه دوره یې له قوماندان شېراغا سره د جهاد په تودو سنګرونو کې تېره کړه
او د ده بې جوړې سفرنامه "د یاقوتو چینه" له همدې مشاهدې نه د زمزم په توګه راوخوټېده او بیا وروسته له "سپېدو" سره

ورپسې مې په کوچني "ایمل" سلام دی
چې صاحب د "مجلې" او د مرام دی
بیا سلام مې دی و هغه انجمن ته
چې سپېدې غواړي زموږه ګران وطن ته
د سپېدو په تتو کرښو کې لمروینې
آزادي چې لري هغه سحر وینې
هو!
سپېدې مجله ۲۱ ګڼې چاپ او تر څه کم دوه کاله چلېدو وروسته بنده شوه.
د سپېدې له راوتو سره، موږ د مجاهدو لیکوالو او شاعرانو ټولنه هم جوړه کړه، چې میاشت په میاشت به یې په اردو ساینس بورډ کې غونډې کولې
او ساهو د دې ټولنې فعال غړی و.

(۷)

ساهو د "سپېدې" تر بندېدو وروسته د چین په سفر روان شو
او د چین د راډیو د پښتو څانګې نطاق،
دوه کاله یې هلته تېر کړل، بیا بېرته پېښور ته راغی
ده به د خپل خاص فطري ظرافت په ترڅ کې کیسه کوله؛
چینایانو به راته ویل:
زموږ پښتو خپرونه څوک اوري؟
ما به ورته ویل:
ولې نه!
ویل:
څوک؟
ما ویل:
زما مور!!!
ځکه هغه زما له مرګ او ژونده ځان خبرول غواړي!

(۸)

په ۱۳۶۹ کال مو په پېښور کې د "ایشا فونډېشن" په مرسته د افغانستان کلتوري ټولنه جوړه کړه،
سپېدې بیا خورې شوې
او مشاعرې هم راژوندۍ
ساهو په پوره جدیت او وظیفه شناسۍ کار کاوه،
سپېدې مو په لومړي سر کې په (۱۰۰) مخونو کې راوایسته،
خو ده به ویل:
په دې خلکو اعتبار نشته، دوی د خپل

د لکیرو موضوع فلسفي وه
او د ژوند پر فلسفه راڅرخېدې،
نوې پوښتنې او نوې غوښتنې په کې مطرح کېدې،
نوې او له نوښتونو ډکه ژبه یې وه
او د شکل او موضوع دواړو له خوا یوه نوې شاعري وه
د ده د لکیرو لړۍ روانه وه او په مغزو کې یې لا ډېرې غوښتنې او پوښتنې پاتې وې
نو ځکه لکیرې لوستونکي ته د ده د ژور نظر په رڼا کې ډېرې پوښتنې او ګروېږنې ورکوي
او خپل لوستونکی د ژوند د فلسفې په کړلېچونو کې پرمخ بیایي:
د ده لکیرې باید په یوه ځانګړي کتاب کې راغونډې شي،
خپرې شي
او باور دی چې د لکیرو په چاپولو سره به
د پښتو په شعري پانګه کې یوه اضافه وشي،
یوه ښه خوږه او پخه اضافه.
د ده پاتې شاعري هم یوه بېله مجموعه ډکوي
او د ده د تاند او تپاند فکر خوځوونکې او هڅوونکې وړانګې پر ذهنونو خوروي!

(۱۱)

د ساهو د "یاقوتو چینه"
چې د تورغره د سفر سپینه زېړنده ده
د پښتو یوه خوږه او له داستاني کیفه ډکه سفرنامه ده
ورسره د مجاهدینو د اتلولیو، سختیو او په څنګ کې یې د دښمنیو او تریګنیو یوه ښه هینداره ده!
سفرنامه په پښتنو کې لومړی ځل درې نیم سوه کاله وړاندې د پښتو ادب پلار خوشال خان خټک ولیکله
او د هندوکوه (هندوکش) په لمنو کې یې د خپل یوه جنګي سفر پېښې په کې قلمبندي کړې
په خوږه، روانه او له خوږو محاورو ډکه نثري ژبه
او بله سفرنامه یې په نظم کې وه د "سوات نامه" په نامه،
بیا ګڼې سفرنامې ولیکلی شوې:
لکه د میرزا دوست محمد "سراج الحج"،
بیا د میا اکبرشاه "د آزادۍ تلاش"،
د عبدالاکبرخان اکبر "د افغانستان او روسي

بیا تر تیبول غواړي او خپرول!
ساهو د پښتو د ژوندیو شاعرانو
د یوې ابتکاري، هنري او ذوقي تذکرې لیکلو نیت هم درلود
د دې له پاره یې پوښتنلیک هم جوړ کړی و
او یو نقل یې ما ته په خپل قلم راکړی
څو ځله یې ځواب رانه وغوښت
ما به د لیکلو وعده ورکړه، خو تراوسه یې ځواب نالیکلی پاتې شو
زه د ده د ځواب پوروړی شوم
خو داسې برېښي چې تقدیر غوښتل
د ده دا پوښتنلیک له ما سره پاتې شي
چې زه یې تاسې ته ورسوم
که نورو کسانو ته یې دا پاڼې ورکړې وي
نو کېدای شي چې ځوابونه یې د ده په کاغذونو کې ترلاسه شي
او که نه وي، نو دا پوښتنلیک موږ د ده له یوه بل ابتکاري کار نه هم خبروي.
هو! ده جالبه تذکره جوړول غوښتل
چې په عنعنوي ادبي پوښتنو ولاړه نه وه
بلکې ده غوښتل چې د یوه شاعر او لیکوال عمومي ذوق او خوښ ناخوښ په کې راغونډ کړي
او د ده په باب ضروري او بنسټیز معلومات ولري
دا پوښتنلیک او ولس پوښتنې لري،
زه ټولې دلته راوړم،
که په کاغذونو کې یې راټولې شوې پاڼې وموندل شي، نو څوک به یې د ده په ارواښاد بشپړ کړي
او که بل چا ته یې پاڼې نه وي سپارلې
یا بل چا هم لکه زما غوندې ځوابونه نه وي ورته سپارلي
نو بیا به یو بل ځوان د ده د پوښتنلیک پر کرښو دا کار وکړي
او د ده ځوانیمرګه هیله به ترسره کړي
او ما به هم د ده پور په دې ډول ادا کړی وي!
د ده د پوښتنلیک پوښتنې دا دي:

یوائې ساهو ځوانیمرګ نه کړ
بلکې د ده هیلې یې هم ځوانیمرګې کړې
د ده شاعري او لیکوالي یې هم ځوانیمرګه کړه
او له ده سره اړوندې د ادب تاندې څانګې یې هم ځوانیمرګې کړې
هو!
ساهو ځوانیمرګ شو
خو د ده ادبي زیار به دی ابدي کوي
او دی به زموږ له بهیر سره تل روان ساتي!

ارواښاد اوسه!
۱۹۹۸/۸/۲۳
منګوره، سوات، پښتونخوا

## د وطن په ویر کې

**ځېړنپوه محمد عارف غروال**

واورې مو غوښتې خو توپانونه شول
هره خوا وطن مو ټول زخمونه شول
هسې هم وطن مو زخم زخم دی
جوړ په هر یو زخم نور ټپونه شول
خدایه ستا په دې لویه دنیا کې نن
هره خوا ژړا او فریادونه شول
یو خوا د ګولیو ټکهاری دی
بل خوا د بمونو بارانونه شول
زړونو نور د ز غم قوت بایللی دی
سترګو کې ترې جوړ اوښکې ډنډونه شول
زه به مې پنجشېر که نورستان ژاړم
پورته مې اسمان ته فریادونه شول
هلته بدخشان دلته سالنګ کې ویر
ښکلي ننګرهار کې زخمي زړونه شول
خدایه! د غروال د زړه آواز واوره
ویر باندې اخته یې سمې غرونه شول
۱۳۹۳\۱۲\۱۱

چهارشنبه ▣ ۱ -۴مه ګڼه ▣ درییمه دوره ▣ پرله پسې ۲۲۵ -۲۲۸مه ګڼه ▣ ۱۳۹۴لمریز کال د ثور (غویي) ۳۰مه ▣ ۱۴۳۶هـ ق کال د شعبان المعظم لومړۍ نیټه ▣ ۲۰۱۵ زیږدیز کال د مې ۲۰ مه ▣ ۴مخ

# زېرې

پنځلس ورځنۍ جریده
د تأسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

د کتونکي ډلې تر څارنې لاندې
مسوول مدیر: څېړندوی محمداصف احمدزی
مهتممه: څېړندویه ملکه مشتري
کمپوز او ډیزاین: م. ا. احمدزی
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۷۷۳۰۰۴۷۱

د افغانســـتان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د مرکـــز
خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمۍ، د ژبو او ادبیاتو مرکز،
زنبق څلورلارې، نوی ښار،
کابل - افغانستان

ادبي بحثونه:

# د کتابپوهنې تاریخي بهیر

⊙ څېړنپوه سید محی الدین هاشمي

کتابپوهنه یا کتاب پېژندنه په نړیوال ادب او فرهنګ کې ډېره لرغونې تاریخي مخینه لري. د "مرجع شناسی" اثر د لیکوال دڅرګندونو له مخې، د کتابپوهنې ډېره لرغونې بېلګه په نینوا کې د آشوربانې پال د کتابتون فهرست و. لومړنی موضوعي فهرست، چې د هغې په اړه معلومات ترلاسه شوي دي، له میلاد څخه دمخه په درېیمه پېړۍ کې د سکندریې د کتابتون فهرست دی. په لوېدیځ کې لومړنۍ کتابپوهنه په دویمې میلادي پېړۍ کې د یوناني طبیب جالینوس له خوا "زما کتابونه" په نوم ترتیب او تهیه شوه، چې په دوو ټوکونو کې د هغه د آثارو پېژندنه راغلې وه، چې دا یوه اختصاصي کتابپوهنه ګڼل کېږي. په ۷۳۱ میلادي کال بید (Bede) دانګلیس د وګړو د کلیسا تاریخ خپور کړ، چې د هغه په پای کې یې د خپل ژوند او خپلو آثارو پېژندنه هم ورځای کړه.

په ۱۴۴۰ میلادي کال د چاپ صنعت په بشري ټولنه کې ستر بدلون رامنځته کړ. دغسې د آثارو له چاپ سره د کتابتونونو شمېر هم زیات

د کتابتونو د آثارو فهرست جوړونه په ختیځ کې د مسلمانانو ترمنځ هم ډېره لرغونتیا لري، ابن سینا بلخي په خپل ژوندلیک کې لیکي، چې د بخارا په کتابتون کې یې د کتابونو فهرست لیدلی او مطالعه کړی دی. ابن خلدون لیکي، چې د امویانو په عصر کې په اندلس کې د قرطبې په کتابتون کې یوازې د شاعرانو د دېوانونو فهرست (۸۸۰) صحیفې وې. د کتابپوهنې یا پېژندنې تألیف یا فهرست جوړونه د نن ورځې په اصطلاح په مسلمانانو کې د هغه ځای او سیمې ته له پاملرنې پرته موجوده وه. لکه چې ابن ندیم په ۳۷۷ هـ ق کال په بغداد کې د ابن ندیم فهرست په عربي ژبه جوړ کړ. په دغه اثر کې یې د کتابونو لنډه پېژندنه او د لیکوالو ژوندلیکونه راوړي دي. د دې فهرست فارسي ژباړه د محمد رضا له خوا ترسره او په ۱۳۴۳ لمریز کال چاپ شوه. همدارنګه په یوولسمه هجري پېړۍ کې مصطفی بن عبدالله چې په حاجي خلیفه مشهورو، (۱۰۱۷ - ۱۰۶۷هـ ق) "کشف الظنون من اسامي الکتب والفنون" په نوم یو کتاب خپور کړ، چې په کې زرګونو فارسي کتابونه پېژندل شوي دي. (۱)

**په پښتو ژبه او ادب کې د کتابپوهنې پرمختیایي بهیر:**

د پښتو د ادبي تاریخ په لرغونې او کلاسیکي (منځنۍ) دورو کې، داسې کوم لیکلی اثر تراوسه نه دی ترلاسه شوی، چې په پښتو ژبه کې د کتاب پېژندنې موضوع ته ځانګړی وي. لومړنۍ لیکنې چې په دې لړ کې مخې ته راځي، هغه د برېټش موزیم د پښتو د چاپي او قلمي کتابونو فهرست، چې ختیځپوهانو ترتیب کړی او پښتو ته هم راژباړل شوی دی. د کتاب پېژندنې په اړه لومړنی چاپ شوی ځانګړی اثر چې ما ته معلوم دی، هغه د رازمحمد ویښ "پښتو کتابونه" دي، چې (۴۰۵) ټوکه پښتو چاپي او قلمي کتابونه موږ ته راپېژني. دا کتاب په ۱۳۳۷ لمریز کال پښتو ټولنې چاپ کړی دی. د حبیب الله رفیع "پښتو پانګه" دوه ټوکه هم، چې پښتو ټولنې چاپ کړي (۱۳۵۴ او ۱۳۵۶ لمریز کال)، "د پښتو چاپي آثار" (د

✷ محمد اصف احمدزی

# ادبي او فرهنګي خبرونه

**د پسرلي مشاعرې په یو شمېر ولایتونو کې ترسره شوې**

- د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف کې د پیوستون مشاعره د دې ولایت د ادیبانو او شاعرانو له لوري د ۱۳۹۴ لمریز کال د وري په دویمه جوړه شوه. دا مشاعره د بلخ ولایت د مقام له خوا جوړه شوې وه، چې د دې ولایت له چاروا کو سربېره لسګونو شاعرانو په کې ګډون کړی وو او شاعرانو په کې د پسرلي او پیوستون په اړه شعرونه واورول.
- دغه راز په یاد شوي ښار کې د ملي یووالي په نوم پسرلنۍ مشاعره هم د وري په څلورمه د بلخ خصوصي سکټور د فرهنګي ځانګې او خانه نور لېسې په مرسته ترسره شوه. په دې مشاعره کې د بلخ په ګډون د سمنګانو، جوزجان، سرپل، لغمان او ننګرهار ولایتونو لسګونو شاعرانو برخه اخیستې وه او خپل شعرونه یې په کې ګډونوالو ته واورول.
- په ننګرهار کې د سلګونو شاعرانو، لیکوالو او فرهګیانو په ګډون د نارنج ګل دودیزه مشاعره د وري په ۱۲مه، جوړه شوه. دې مشاعرې ته چې د ولایت په مقام کې ترسره شوه، د هېواد د ځینو ولایتونو پر سلګونو لیکوالو او شاعرانو سربېره له کوزې پښتونخوا هم یو شمېر لیکوال او شاعران راغلي وو. د مشاعرې د تنظیموونکو په وینا، د نارنج ګل مشاعرې دوه برخې درلودې؛ یوه برخه یې مشاعره وه او بله د لاسي صنایعو او کتابونو نندارتون پرانیستل و.
- د زابل په مرکز کلات ښار کې د بادام ګل دودیزه کلنۍ مشاعره د وري په ۱۴مه جوړه شوه، چې د هېواد څو تنو شاعرانو په کې خپل شعرونه واورول.
- د پکتیکا په مرکز ښرنه کې د رڼا په نوم پسرلنۍ مشاعره د وري په شلمه ترسره شوه. دغه مشاعره د لنګن ښوونیز مرکز او د یوسف خېل د ځوانانو له لوري د پکتیکا د شاعرانو د شعر او شاعرۍ او فرهنګي ودې په موخه رابلل شوې وه، چې د ښرنې او ځینو نورو ولسوالیو شاعرانو او د ادب مینه والو په کې ګډون کړی وو. په دې مشاعره کې شاعرانو خپل شعرونه واورول، چې تر ډېره د پسرلي په ښکلي موسم او د پښتنې ټولنې په ناوړو دودونو راڅرخېدل.
- په کندهار کې د انارګل دودیزه کلنۍ مشاعره د غویي په دویمه د همدې ولایت د راډیو ټلویزیون د ودانۍ په انګړ کې جوړه شوه. مشاعرې ته د ولایتي چارواکو تر څنګ له کابل، ننګرهار، هلمند، زابل، اروزګان او کوزې پښتونخوا سلګونه شاعران راغلي وو. په غونډه کې د شعرونو د اورولو ترڅنګ تمثیلي پارچې ننداري ته وړاندې شوې.
- په میدان وردګو ولایت کې د مڼې ګل کلنۍ دودیزه مشاعره د غویي په شلمه نېټه جوړه شوه، چې د شعر او شاعرۍ په سلګونو مینه والو په کې ګډون کړی و. په دې مشاعره کې د طبیعت د ښکلا تر څنګ د روانو حالاتو په اړه شعرونه وویل شول.

***

**استاد اجمل ښکلی ونمانځل شو**

او له هغې سره د کتابپوهنې د تدوین او ترتیب خواته پاملرنه هم واوښته.

یوهانس ترتیایم (Tritheim) (۱۴۶۲ - ۱۵۱۶م) په ۱۴۹۴م کال د کلیسایي لیکوالو کتاب ولیکه او خپور یې کړ او همدارنګه کنراد فن ګسنر (Conrad Gesnar) (۱۵۱۶ - ۱۵۶۵) سویسي ساینسپوه په ۱۴۴۵م کال د نړیوالې کتاب پېژندنې یو فهرست خپور کړ، چې په کې د لاتیني، عبري او یوناني ژبو ۱۵۰۰۰ ټوکه کتابونه د الفبا په ترتیب پېژندل شوي وو. په ۱۵۴۸م کال جان بیل (Jon Bale) د انګلیسي لیکوالو د آثارو کتاب پېژندنه خپره کړه، چې هغه په نړیواله کچه لومړنۍ ملي کتاب پېژندنه ګڼل کېږي. په همدغه وخت کې بیا په ۱۵۴۸م کال فرانسوادولا کرو ( Franco is de lecrolx) فرانسوي کتاب پېژندنه خپره کړه او په ۱۶۳۳م کال کابریل نوده ( Gabried Naude) سیاسي کتاب پېژندنه خپره کړه.

د اسلامي کتابونو او د هغو د لیکوالو پېژندنه راغلې ده. اسماعیل پاشاد د کتابپوهنې په برخه کې د "اسماء المؤلفین وآثار المصنفین" په دوو ټوکو کې یو کتاب خپور کړی دی. دغسې د کتاب پېژندنې او کتابپوهنې په برخه کې نور ډېر آثار چاپ او خپاره شوي، چې د ټولو نومونه دلته نه شو رااخیستی.

په فارسي ژبه، په ایران کې هم د کتابپوهنې په برخه کې ډېر آثار لیکل شوي، چې د بېلګې په توګه، "انجمن ایرانی فلسفه و علوم انسانی" له خوا د حسن تقی زاده په سرپرستۍ د فلسفې او بشري علومو د موضوعاتو یوه ستره کتاب پېژندنه، په ۱۳۳۵ لمریز کال په الفبایي بڼه چاپ او خپره شوه، چې په لومړي چاپ کې یې د ۱۴۰۰۰ کتابونو فهرست او لنډه پېژندنه راغلې وه. همدارنګه د فارسي کتابونو یو بله مفصله پېژندنه په ۱۳۵۰ - ۱۴۵۴ کلونو کې په پنځو ټوکونو کې چاپ او خپره شوه، چې په کې په سیمینار د مقالو ټولګه (۱۳۵۷)، د سرمحقق زلمی هېوادمل "فرهنګ زبان وادبیات پښتو" (دوهم او درېیم ټوک -۱۳۶۵ او ۱۳۶۶ کال چاپ)، د پروفیسور پرېشان خټک د پښتو چاپي کتابونه لنډه بیبلوګرافي، د پروفیسور افضل رضا پښتو کتابیات (۲۰۰۷م کال)، د کابل پوهنتون د کتابخانې بیبلوګرافي، د تاریخ ټولنې کتابونه او د حبیب الله رفیع د ورمو نخښې (۱۳۶۹ لمریز) کې د پښتو د چاپي کتابونو لنډې پېژندنې راغلې دي. (۲)

سرچینې:

(۱) مرادی، نورالله، مرجع شناسی، پنځم چاپ، وزارت فرهنګ اسلامی ایران، تهران، ۱۳۸۱ل کال، ۳۵ - ۴۴ مخونه.

(۲) هاشمي، سید محی الدین (سرمحقق)، د ادبپوهنې څانګې، میهن خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۳ل کال، ۱۶۳ - ۱۶۴ مخونه.

---

## پښتو...

د (م -ه) په حروفو جوړېږي. لکه: پنځه، پنځم، پنځمه. په پښتو ژبه کې دا عدادو ترتیب په مذکر جنس کې خاص پسوند نه لري او په مؤنث جنس کې په (ی) باندې ختمېږي، لکه: پنځمې. په پښتو ژبه کې د فیصدي شمېره د سلو په حساب لیکل کېږي. لکه ( ۳۰%) ((په سلو کې دېرش)) لیکل کېږي (۴).

د کتاب په ۲۴ مخ کې له پښتو ژبې سره د هندواروپایي، ایراني، عربي او ترکي ژبو د مشترکو لغتونو او اصطلاحاتو په اړه څېړنه تر سره شوې ده. د بېلګې په ډول د ځینو جملو ژباړه یې وړاندې کوم: ځینې هغه عربي لغتونه چې په پښتو کې استعما لېږي، لکه کتاب، اطلاع، حکومت، معلم، اخبار، سفارت، مملکت او نور. د هندي ژبې ځینې مشترک لغتونه، لکه جګړه، ټاپو، جولا، روپۍ، پټی، جوړه، ډنګر او نور. د ترکي ژبې ځینې مشترک لغتونه، لکه ګمرک، قراول، قره قول، ارابه، کنداغ، کارغه او نور (۴).

د دې کتاب په ۸۷ مخ کې د افغانستان د هغو مستو سیندونو په اړه، چې د افغانستان له مختلفو سیمو څخه بهېږي او په پای کې د افغانستان له سرحداتو څخه خارجېږي او ډېره لږه ګټه ترې اخیستل کېږي، داسې یادونه شوې ده:

د وچو ډاګونو، د دښتو او میرو له څنګه لوی سیند بهېږي، مګر دغې وچې بیدیا ته اوبه نه ورکوي. په دغسې وچکالۍ کې چې په اوبو باندې سرونه ماتېږي، سیند لکه شوم بخیل په شتاب درومي او زموږ تندي ته نه ګوري. کله چې سیند په چپو راشي، کورونه او آباد پټي هم له ځان سره یوسي. همدغه سیند له مونږ نه هغه خوا بل راز روان دی او له نورو سره یې رویه بل راز ده، هلته دغسې ورانۍ نه کوي، دومره بخل نه لري، دغه راز بې رحمي په کې نشته، هلته د سیند په غاړه زرشویان د سیند له شګو نه زر راباسي. ماهي ګیران په کې په خروارو کبان نیسي او ښکاریان یې په لوی او ستر ډنډ هیلۍ ولي. هلته له سیند نه ډېرې لویې ویالې بېلې شوې دي، ډېر لوی لوی......(۶)

دغسې با ارزښته چاپ شوي کتابونه چې د افغانستان د ژبو، قومونو، تاریخ، جغرافیې، ادبیاتو او اتنوګرافۍ په اړه د بهرنیو پوهانو له خوا تألیف شوي دي، بېخي ډېر دي، چې شمېر یې زرګونو ته رسېږي. همدارنګه د دې په څنګ کې ډېر قلمي او خطي آثار هم دي، چې تراوسه پورې زموږ لیکوالو ترې ګټه نه ده اخیستې. په دې برخه کې زما وړاندیز دا دی، چې دغه چاپ شوي او ناچاپ ګټور کتابونه راټول او د چاپ او ژباړې له پاره زمینه ورته برابره شي.

په همدې هیله

مأخذونه:

(۱) د روسي او شوروي ختیځ پوهانو له خوا د پښتو تحقیق، تمارا میونـدي، ژباړونکی: معتمد شینواری، پښتو څېړنې، دوهم ټوک، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، د افغانستان د علوموا کاډمۍ، ۱۳۶۷هـ ل کال، ۲۲۵ مخ.

(۲) http: cgi–big/1/cgiirbis64.exe? //catalog.unatlib.org.ru/

(۳) http://rut racker.org/forum/viewtopic.php?t=3741.98

(۴) http://book tracker.org/viewtopic.php?t=56654

(۵) http://book tracker.org/viewtopic.php?t=56654

(۶) http://book tracker.org/viewtopic.php?t=56654

---

په کابل کې د "پل فکري کړۍ" او د "میډیو ټیک افغانستان" فرهنګي بنسټونو له خوا د کابل پوهنتون د استاد او لیکوال پوهنمل اجمل ښکلي نمانځغونډه د وري په شلمه جوړه شوه. په غونډه کې، چې ګڼ شمېر استادانو او ادیبانو ګډون کړی و، د نوموړي پر کړو هڅو او ادبي فعالیتونو ویناوې او بېلابېلې مقالې واورول شوې. ښکلي ګڼ څېړنیز اثار لیکلي او ژباړلي دي.

***

### د عبدالقدیم پتیال د ژوند او اثارو په اړه علمي - څېړنیز سیمینار جوړ شو

په کندهار کې د لیکوال، شاعر او څېړونکي عبدالقدیم پتیال د ژوند او اثارو په اړه یو ورځنی علمي -څېړنیز سمینار د ۳۹۴ لمریز کال د غویي په لومړۍ نېټه جوړ شو. دغه سیمینار چې د کندهار ښاروالۍ د غونډو په تالار کې جوړ شوی و، په کې له کابل، ننګرهار او د ډیورنډ کرښې له پورې غاړې څخه لیکوالانو، څېړونکو، شاعرانو او فرهنګیانو ګډون کړی وو. په دې سیمینار کې د پتیال د ژوند، شاعرۍ او لیکوالۍ د بېلابېلو اړخونو په اړه یو شمېر څېړونکو او لیکوالو مقالې او ویناوې واورولې. په پای کې یو اووه ماده ییز پرېکړه لیک هم وړاندې شو، چې د پتیال په نوم د کندهار په اطلاعاتو او کلتور ریاست کې د یوه کتابتون د جوړولو او دغه راز د هغه د آثارو د راټولولو او چاپولو غوښتنه په کې شوې وه. پتیال په ۳۱ کلنۍ کې د ۱۳۹۳ کال د لړم په ۱۱مه په کندهار پوهنتون کې په یوه وسله وال برید کې ووژل شو. زرپاڼه (ناول)، انکار (شعري ټولګه)، نتلي لیکوال (د استاد محمد ګل نوري ژوند او اثارو ته لنډه کتنه) او پردېس بېنوا (تحقیقي اثر) یې لیکلي آثار دي.

***

### د محمد حسن حسام یادغونډه جوړه شوه

د افغانستان قلم ټولنې د غویي په درېیمه، د یوې پرتمینې ادبي غونډې په جوړېدو سره، د اروابښاد حسام یاد تازه کړ. د ځینو لیکوالو له خوا ویناوې، مرثیې او د مقالې ولوستل شوې او هم په کې ګڼ شمېر کتابونه ووېشل شول.

***

### د ګل ملا همکار د شعري خدمتونو د درناوي په منظور غونډه وشوه

دلته ګلا ملا نه چلېږي
دلته ګل مکۍ چلېږي
(همکار)

د طناز شاعر ګل ملا همکار د شعري خدمتونو درناوی د افغانستان قلم ټولنې له خوا د دغې ټولنې په ودانۍ کې د یوې ادبي غونډې په ترڅ کې ترسره شو. دا غونډه د غویي میاشتې په نهمه جوړه شوې وه او د ښاغلي همکار د شعر مینه والو او دوستانو په کې ګډون کړی وو. یو شمېر شاعرانو او لیکوالو په کې مقالې وویلې، ځینو خبرې وکړې او څو نورو شعرونه وړاندې کړل او د ګلا ملا شعرونه یې منظوم واقعیتونه وبلل. همکار په ځینو شعرونو کې د پښتو، دري او انګلیسي ژبو لغتونه یو ځای هم کارولي دي.

***

### د اسحاق ننګیال اوولسم تلین ونمانځل شو

د پښتو ژبې د نوښتګر شاعر اروابښاد اسحاق ننګیال اوولسم تلین په کابل کې د هغه د مشهور شعر "دا کلي مه ورانوئ!" تر نوم لاندې د یوې غونډې په ترڅ کې د غویي په لسمه ونمانځل شو. یاده غونډه د "پل فکري کړۍ" او "میډیو تیک افغانستان" له خوا په ګډه جوړه شوې وه، چې لسګونو شاعرانو، لیکوالو او د هغه د کورنۍ غړو په کې ګډون کړی و. په غونډه کې ګڼو لیکوالو د هغه د شاعرۍ پر بېلابېلو اړخونو لیکلې مقالې واورولې او د هغه د شاعرۍ پر هنر، ژبې، نوښتونو، سمبولونو او ښکلاوو یې خبرې وکړې. وروسته د تیاتر او تمثیل مخکښو لوبغاړو ممنون مقصودي او حفیظ الله ګردش د ننګیال د خاطرو یادولو تر څنګ د هغه شعرونه د کلمه او زمزمه کړل. ننګیال په ۱۳۳۵ لمریز کال د لغمان د الینګار ولسوالۍ په بسرام کلي کې زېږېدلی او په ۱۳۷۷ کال په پېښور کې مړ شو. "ډالۍ"، "غوړېدلي بزغلي او سپېره ډاګونه"، "سیندونه هم مري"، "څاڅکي څاڅکي" یې شعري ټولګې او "سیوری" یې سیاسي ناول دی.

***

### د مینې او ښکلا شاعر سید جیلاني جلان وستایل شو

د وربښـــمني جانـــان یـــوه نښـــه دروښـــیمه
دومـــره نـــازک دی چـــې خبـــرې کـــوي هـــم خـــوږېږي
(جلان)

د مینې او ښکلا شاعر سید جیلاني جلان نمانځغونډه د افغانستان قلم ټولنې له لوري د غویي په لسمه جوړه شوې وه، چې لسګونو شاعرانو، لیکوالو او د جلان د شعر مینه والو په کې ګډون کړی وو. پوهانو، جلان په ځوانو شاعرانو کې یو نوښتګر شاعر وباله او د ده شاعري یې د انځور له پلوه، ښه بډایه شاعري وبلله.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.